بسم الله الرحمن الرحیم

# د تعدد ازواج یا څو ښځو په نکاح کولو مسئله

ژباړن : عبدالواسع "صابر"

نن سبا یوه ډله ډېر زور لګوي ترڅو دا ثابته کړي چې د تعدد ازواج یا څو ښځو سره نکاح کول کوم چي اسلام د لمړنی وخت څخه تر اوسه پوري یوه اتفاقي خبره ده د قرآن څخه مخالفت دي.کوم تصور چي دا ډله وړاندي کوې هغه د قرآن مجید سره برابر او نور نظریات غلط او مخالف ګڼي.

دې مسْلې ته په علمي نظر کتل او دهغي په هکله خالص علمي بحث کول پکار دي ترڅو حقیقت څرګند شي . او د هغه تاویلاتو چي دغه ډله یې وړاندې کوي حقیقت په ډاګه شي.

**دقرآن مجید اصل قانون:** د څو ښځو سره دنکاح په هکله چي کوم اصل ایت شریف په قرآن مجید کې راغلي هغه د سورت النساء په لمړنۍ برخه کې په لاندنیو کلماتو سره نازل شوی دی:

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا (سورة النساء (3))

ژباړه: که تاسې پدې اندیښنه کې یاست چې دیتیمانو سره به انصاف او عدالت ونه کړای شئ نو د ښځوڅخه چې کومې ستاسې خوښې وي دهغو سره نکاح وکړئ، دوه دوه ، درې درې ، څلور څلور، خو که تاسې پدې اندیښنه کې وئ چې عدالت به ونشئ کړای نو بیا یوه ښځه په نکاح کړئ ، یا هغه ښځې په خپله نکاح کي راوړئ چې ستاسې په واك او قبضه کې دي ، د بې انصافۍ او بې عدالتۍ څخه د بچ کیدو لپاره دا غوره لاره ده.

مفسرینو کرامو د دې ایت درې مفهومه بیان کړیدي :

1ـ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها د دې ایت په تفسیر کې فرمایي : د جاهلیت په زمانه کې به خلکو یتیمې انجوني د مال ، ښایست اویا د دې لپاره چې سرپرست نلري په نکاح کولې او بیا به یې ورسره ناروا سلوك او زیاتی کولو ، نوددې ظلم او زیاتي د مخنیوي په خاطر الله جل جلاله حکم نازل کړ چې که تاسې ددې څخه اندیښنه لري چې دیتیمانو سره به عدالت اوانصاف ونکړئ نو بیا خو نورې ښځې شته چې کومې مو خوښیږي د هغوی سره نکاح وکړئ.
دسورت النساء د نولسمې رکوع لومړی ایت هم ددې تفسیر تائیدکوي.
2ـ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه او د هغه شاگرد حضرت عکرمه (رح) ددې ایت شریف دغه ډول گتفسیر کوي: د جاهلیت په زمانه کې د نکاح اندازه او شمیر معلوم نه وو ، هر نارینه به لس ښځې کولې او کله به چې ددې زیاتو ودونو په سبب خرڅ او مصارف زیات شول نو د خپلو نژدې یتیمانو په حق به یې تیری کاوه او د هغوی مالونه به یې خوړل .
د دې تیري اوظلم د مخنیوي لپاره الله جل جلاله د څلورو ښځو په نکاح کولو حد او اندازه وټاکله او ویې فرمایل چې د ظلم اوتیري څخه د خلاصون یوه ښه داده چې د یوې څخه تر څلورو پورې نکاح وکړئ او د هغو سره عدل او انصاف وکړئ.
3ـ حضرت سعید بن جبیر او حضرت قتادۀ رضی الله عنهم او نورمفسرین کرام فرمایي: د جاهلیت په زمانه کې هم ځینو خلکو د یتیمانو سره بې عدالتي او بې انصافي بده گڼله خو د ښځو په هکله د هغوی فکر او ذهن د عدالت او انصاف کولو څخه خالي وو، د هغوی به چې څومره زړه وو په هماغه شمیر ودونه به یې کول او بیا به یې د ښځو سره زیاتی او ظلم کاوه، نو د دې ظلم او ناروا په هکله ورته حکم وشو چې لکه څنگه چې تاسې د یتیمانو سره ناروا سلوك او زیاتی بد گڼئ په همدې توگه د ښځو سره زیاتی اوظلم هم بد دی اوباید ځان ترې وساتئ ، لومړی دا چې د څلورو څخه زیاتې ښځې مه په نکاح کوئ او په هغوکي هم دومره چي تاسې ورسره انصاف او عدالت کولای شئ.

د ايت شريف کلمات او الفاظ ددې درې واړو تفسيرونو سره برابری کولای شي او دا هم د تعجب خبره نده چې دا دری واړه مفهومه ورڅخه مراد وي.
ددي ايت شريف بل تفسير او مراد داسې هم کيـدای شي چـې کـه چـيرې تاسـې د يتيمانو سره انصاف اوعدالت نشئ کولاې نو بيا دداسی ميرمنـو او ښـځو سره نکـاح وکړئ چې د هغوی سره يتيمان وي تر څو هغه هم ستاسې دخپلو ماشومانو په شان وګرځي او د هغوی سره عدالت وکړای شئ.
پدي خبره د ټول امـت دفقهـاړ تقريبـاً اجـماع ده چـي ايـت شريـف يـو مسـلمان تـه دڅلورو ښځو کولو اجازه ورکړي ده او دايې هغه ته پريښـې ده چـي يـوه کـوي او کـه څلورو ته يې رسوي.
پدي خبره هـم د ټـول امـت د فقهـاوو تقريبـاً اجـماع ده چـي د دي ايـت شريـف پـه وسيله د ښځو يا نکاح شمير محدود شو او د څلورو څخه زياتې ښځې په نکاح کول په يو وخت کښي منع شول، د رواياتو څخه د دې تائيد کيږي لکه چـې پـه احـاديثو کې راځي چې د طائف رئيس غيلان اسلام راوړنو دهغه په نکاح کې نهـه ښـځې وې نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته حکم وکړ چې څلور وساتي او نورې خوشې کړي.
همدارنګه د نوفل بن معاويه پنځه ښځې وې هغه ته هم رسول الله صـلی اللـه عليـه وسلم حکم وکړ چې يوه ښځه خوشې کړي.
همداراز دغه ايت شريف هم د زياتو ښځو په نکاح کـول پـه عـدالت او انصـاف پـورې تړي چې فرمايي:هغه کسـان چـي ديـوې څخـه زيـاتې ښـځې کـوي او د هغـوی سره عدالت او انصاف نکوي په حقيقت کي د الله (ج) دورکړل شوې اجـازې څخـه غلطـه فايده اخلي.
شرعي محکمه يا د اسلامي حکومت قاضي دا حق لري د کومې ښځې سره چې بـې عدالتي کيږي د هغې سره مرسته او کومك وکړي او حق يې ورته واخلي.

**غلطه فرضیه:** که پدې ایت شریف باندې بیا بیا نظر واچول شي او په ښه غور او دقت سره وکتل شي دا به پکې پیدا نکړي چې ګوندې د زیاتو ښځو په نکاح کول خپله بدکار دی او قرآن مجید هغه بدګڼلی دی او دهغې د ختمولو کوښښ یې کړیدی.

زمونږ د زمانې نوي مفسرین دا دعوه لري چې قرآن مجید په اصل کې د زیاتو نکاح کولو طریقه ختمول غوښتل خو دا چې هغو ډیر رواج پیداکړی وو نو په لومړي وخت کې یې په هغې پابندي ولګوله ترڅو هغه رامحدوده کړي اوپه مناسب وخت کې یې بیا خلك په خپله له مینځه یوسي .

پوښتنه داده چې دغو نویو مفسرینو ته د قرآن مجید دا غوښتنه او مرام له کومې لارې او کوم بند څخه معلوم شو؟ که هغوی ددې خبرې مخالف وي نو کولای شي د خپلې خوښې سره سم یې وغندي او دهغې د بندولو سلا او مشوره ورکړي خو دا حق هیڅوك نلري چې خپله رایه په قرآن مجید پورې وتپي .

قرآن مجید په څرګندو او صافو الفاظو هغه جائز او روا ګڼلې ده ، قرآن مجید نه په اشاره او نه په کنایې سره د هغې په ضد څه فرمایلي دي او نه دا ورڅخه څرګندیږي چې ګوندې دا عمل بد او ناروا دی.

**لومړنی تاویل:** دوی چې دخپلې غلطې خبرې او دعوې لپاره کوم تاویلات وړاندې کوي دهغې هره برخه ددوی د دعوې او غلطې خبرې څخه هم کمزورې وې. هغوی وایي :( دا دخلکو د ټاکلو او غوره کړیو استازیو کاردی چې پدې اړه قانون جوړ کړي چې یو مسلمان دیوې څخه زیاتې ښځې کولای شي که نه او په کومو حالاتو کې یې کولای شي).

اوس د هغه ایت شریف کلمات او الفاظ په غور سره وګورئ له کوم څخه چې دا قانون راویستل کیږي. د هغه د کلماتو څخه په ډاګه څرګندیږي چې مسلمانانو ته وینا متوجه ده هغوی ته فرمایي : که تاسې پدې هکله اندیښمن یاست چې

دیتیمانو په برخه کې به انصاف او عدالت ونکړای شئ نو کومې ښځې چې ستاسې خوښې وي د هغوی سره نکاح وکړئ د دوه دوه، درې درې ، څلورو څلورو سره خوکه تاسې اندیښنه ولرئ چې عدل به ونکړای شئ نو بیا یوه بس ده .
دا څرګنده خبره ده چې د ښځو سره نکاح کول ، د هغې خوښول د هغوی سره انصاف او عدل کول د افرادو کار دی نه د قوم اوټولني , دلته چې کوم کلمات د جمع مخاطب استعمال شوي هغه افرادو ته خطاب دی او هغوي په انفرادي لحاظ مخاطب شوي دي . که هغوی عدل اوانصاف کولای شي نو ترڅلورو پورې ښځې په نکاح کولای شي .
خطابي صیغې ختمې اوله منځه لری نکړو ترهغو پورې دقوم اوملت داستازو مسْله په کې نشي داخلیدای.
د ایت شریف کوم لفظ اوکلمه استازو ته لاره او دروازه خلاصوي؟ اوبیا دا حق ورکوي چې هغوی به فیصله کوي چې څوك یې کولای شي او څوك یې نشي کولای .
حال دا چې الله (ج) خپله په څرګنده توګه هغه ته اجازه ورکړې اوبیا دکولو د کلمې څخه وروسته هغه ته اختیار ورکړل شوی چې په کومو شرایطوکې یې کولای شي او په کومو شرایطو کې یې نشي کولای.
الله (ج) هر مسلمان فرد ته دا اجازه ورکړې چې که عدل او انصاف کولای شي نو بیا ترڅلورو پورې ښځې په نکاح کولای شي اوکه عدالت او انصاف نشي کولای نو په یوې باید بس والی وکړي.

**دوهم تاویل:** دوهمه خبره هغوی دا کوي چې: ( که له یوې څخه دزیاتو ښځوسره نکاح هم کوي نو باید هغه دیتیمانو په فایده او ګټه وي ، ځکه د همدې مقصدلپاره د څو ښځو سره د نکاح اجازه ورکړل شوې. دا تاویل دایت شریف د هغې برخې له مخې شوی چې که ( تاسې اندیښنه ولرئ چې یتیمانوسره به انصاف ونشئ کړای) .

دوی ددې برخې څخه دا ثابتوي چې د یوې څخه د زیاتو ښځو اجازه یواځې د یتیمانو د فایدې اوګټې په خاطر ورکړل شوې ده نو باید دوهمه ،دریمه اوڅلورمه نکاح دداسی ښځوسره وشي چې خپله یتیمان وي اویا دیتیمانو سرپرستي ورپه غاړه وي.

ددې خلکو دا دعوه چې دزیاتو ښځو سره نکاح کول یواځې د یتیمانو سره په انصاف او عدل پورې شرط بلل شوی او نور څه پکی نشته بیخي غلطه ده.

قرآن مجید چې هر چا ویلی وي هغه پدې حقیقت پوهیږي چې ډیر داسی احکام دخاصو حالاتو په وخت کی ورکړل شوي او داسې زیات کلمات اوالفاظ استعمال شوي دي لکه ( که داسې حالات راشي نو دهغې حکم دادی).

که پدې ټولو ځایونو کې هماغه شرط حتمي وبلل شي نو د شریعت ټول صورت به بدل او مسخ شي.

د مثال په توګه د عربو جاهلو خلکو خپلې وینځې بدکاري او زنا ته مجبورولې ترڅو لدې لارې پیسې وګټي قرآن مجید په دغه رواج او دود بندیز ولګاوه اوویې فرمایل:[1] خپلې وینځې بدکاري ته مه مجبوروئ پداسی حال کې چې هغوی ځان ساتل غواړي. ایا ددې ایت شریف څخه دا مطلب څوك اخیستلای شي چې دا حکم یواځې د وینځو لپاره دی او بیا د هغو وینځو لپاره چې ځان ساتل غواړي اوکه ځان ساتل نه غواړي نو بیا ورته اجازه شته؟ .

دوهمه غلطي پدې تاویل کې دا شویده چې د سورت النساء د اړوند ایت شریف په هکله دا فرضیه بلل شوې چې ایت د څو ښځو د نکاح د اجازې په هکله نازل شوی حال دا چې دا فرضیه خپله غلطه ده ځکه چې په عربي او نورو ټولنو کې د زیاتو ښځونکاح کول یو عام رواج ، عادت او مباح کار وو، په بایبل کې راغلي چې پخوانیو انبیاء علیهم السلام به لس ګونو اوپه سل ګونو میرمنې لرلې اوخپله رسول الله

[1] - سورة النور آیة 33

صلى الله عليه وسلم ددې ايت شريف دنزول څخه مخكې درې ميرمنې په نكاح لرلې او صحابه كرامو هم پدې رواج عمل كړی وو .
كله چې يوه طريقه له پخوا څخه موجوده وي اورواج ولري دهغې لپاره داجازې وركولو سوال او پوښتنه نه پيداكيږي.
دا چې قرآن كريم ترې منع نده كړې ددې معنیٰ لري چې هغه ځای پر ځای دی او كه څه لاندی باندی پكې وكړي لكه پدې مسٔله كې يې چې د څلورو حد وټاكلو نو دا فرضيه پخپله غلطه شوه چې ګوندې دا ايت شريف د څو ښځو دنكاح كولو داجازې لپاره نازل شوی
نوموړی ايت شريف د اُحد د غزا څخه وروسته نازل شوی اوددې مقصد داوو چې كومې ميرمنې چې د څو څو يتيمانو سره كونډې شوې د هغوی د سرپرستي لپاره مناسبه طريقه بيان كړي.
پدې كې مسلمانانو ته ددې خبرې څرګندونه وشوه چې كه تاسې داُحد دشهيدانو ديتيمانو په هكله د بې انصافۍ څخه انديښنه لرئ نو بيا تاسې ته دڅو ښځو د نكاح كولو لاره له مخكې څخه خلاصه ده، د شهيدانو د ښځو څخه چې كومې ستاسې خوښې وي د هغو سره نكاح كولای شئ, ترڅو پدې توګه هغه يتيمان ستاسی د بچيو پشان شي او د هغوی په ګټه او فايده كې دقت وكړئ.
ددې څخه دا خبره راويستل چې زياتې ښځې په نكاح كول هغه وخت جواز لري چې كله د يتيمانو د روزنې خبره مطرح وي د هيڅ منطق سره برابره نده. پدې ايت كې چې كوم شی زيات شوی هغه د زياتو ښځو د نكاح اجازت نه بلكې هغو ته دحد ټاكل دي يعنې د دې څخه وروسته څوك د څلورو څخه زياتې ښځې نشي۔ نكاح كولاۍ او نوی ترميم همدا وو, بله دا چې د زياتو ښځو په نكاح كول دانصاف او عدالت د مراعاتولو سره وتړل شو چې مخكې دا شرط هم موجود نه وو.
د دې تاويل غلطي هغه وخت ښه څرګنديږي چې كله مونږ ګورو ددې ايت شريف د نزول څخه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم څو نورې ميرمنې هم په نكاح

کړې او په هيڅ يوې کې هم اصلي مقصد دا نه وو چې د يتيمانو د سرپرستي مسْله پکې دليل بلل شوی وي .
بل دليل دا هم دی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ژوندانه کې او د وفات څخه وروسته نکاح ګانې کړې چې په هغو کې پيغلې ،کونډې ، طلاق شوې او بې اولاده ښځې موجودې وې.
او ترنن پورې د اسلام فقهاوو او مفسرينو ددې ايت څخه دا مطلب نه دی راويستلی چې د زياتو ښځو په نکاح کول يواځې ديتيمانو د روزنې لپاره جواز لري او بل مقصد پکې نشته.

**دريم تاويل:** دريمه خبره دا کيږي چې : که چيري يو مسلمان وايي چې زه د يوې څخه زياتې ښځې نه په نکاح کوم ځکه چې زه يې طاقت نلرم ، نو د سل مليونه مسلمانانو اکثريت هم دا قانون جوړولای شي چې د مسلمانانو اقتصادي ، ټولنيز، تمدني اوسياسي حالت د دې طاقت نلري چې مسلمان ديوې څخه زياتې ښځې په نکاح کړي.
دا عجيب دليل اومنطق دی چې ګوندې يو مسلمان وايي زه د زياتو ښځو د نکاح کولو وسه او توان نلرم او دا مسلمان خپله آزادي استعمالولی شي چې يوه وکړي ، يا يې هيڅ ونکړي يا دا چې ميرمن يې وفات شي بله وکړي يا يې هيڅ ونکړي , او که زړه يې وغواړي خپله مخکينی فيصله بدله کړي او څو ميرمنې په نکاح کړي.
اوکه قوم په عمومي توګه قانون جوړوي نو بيا د فرد څخه دا آزادي اخلي کومه چې الله (ج) هغه ته ورکړې ده که داسې وي نو ددې خبرې پوښتنه پيداکيږي چې ايا قوم دا قانون جوړولی شي چې نيم خلك نكاح وکړي اونيم دې ونکړي؟ يا داچې د چا خاوند يا ميرمن وفات شي هغه دې بله نکاح نکوي.

هره آزادي چي افرادو ته ورکړل شوې هغه د دليل پـه توګـه وړانـدې کـول او د خلکـو څخه آزادي اخسـتل او قـوم تـه ورکـول يـو قـانوني جنجـال کيـداى شي خومـونږ تـه داندي معلوم چې دا اصل په قانون کې له کوم وخت څخه راوتلى او رواج شويدى.
که مونږ دا خبره د لږ وخت لپاره ومنو د مسلمانانو اکثريت يعنـې ځلويښـت مليونـه او زر کسان دا فيصله کولاى شي.خو که چيرې د اتيا مليونه مسلمانانو څخه يو څو زره کسان داسې فيصله وکړي او بيا يې پـه ټـول قـوم منـي او پـه زور يـې پـه هغـوى عملي کوي د هغې په هکله بيا څه ويل پکاردي؟ ځکه د سل مليونه مسلمانانو څخه شايد د لس مليونو يا د هغې نيمايي يا د هغې ځلورمه برخه هم دا نظر نلـري چـې د مسلمانانو اقتصادي ، تمدني او سياسي حالت د يو مسلمان لپاره دا اجازه نه ورکـوي چې هغوى د يوې څخه زياتې ميرمنې په نکاح کړي ,خو د دې په خواکې هغـوى تـه دټولو اخلاقي اصولو خلاف دګرل فرينډ، زنا کولو او نورو فاحشو ښـځو سره د اړيکـو ساتلو قانوني جواز موجود وي.
هغه ښځې چې د بنې او بلې ښځې سره يې د خاونـد نکـاح کـول ورتـه بـد اوسـخت ښکاري ايا هغوى دا قبلولى شي چې د خپل خاوند سره ستي اوپه يوځاې ژوندى په ګور کړاى شي خو که د هغې خاوند بله په نکاح نکړي ولـې د نـورو ښـځو او فاحشـو سره اړيکې ولري هغه به پرې خوشحاله وي. دا هغه وخـت کيـداى شي چـې دې تـه هم آزادي وي چې د هر چا سره وغواړي اړيکې ټينګې کړي او خپل خاوند يـې تـش په نامه خاوند وي.

**څلورم تاويل:** څلورم تاويل د متجددينو يـا نـوي کوونکـو لخـوا څخـه داوړانـدې کيږي چې :

په سورت النور 33 ايت کې ددې خبرې بيان شوى چې کـوم کسـان د نکـاح وسـايل ونلري هغه دې نکاح نکوي ، نوکه يوکس دوسـايلو د کمبـود پـه اسـاس د يـوې نکـاح

څخه منع کیدای شي نو بیا د داسې‌گ یا نورو لاملونو په اساس څوك ولې دزیاتوښځو نکاح کولو څخه منع کیدانشي.
ددې تاویل لپاره چې کوم ایت شریف ددلیل په حیث وړاندې شوی دهغه کلمات اوالفاظ دارنگه دي:
ژباړه: هغه کسان چي د نکاح موقع نشي- پیداکولی هغوی دې د عفت څخه کار واخلي تر هغې پورې چې الله (ج) هغوی له خپل فضل سره غنیان کړي.
ددې ایت شریف څخه کله او څه وخت داسې معنیٰ اخستل کیدای شي چې داسې کسان باید نکاح ونکړي ؟ دلته خو ددې خبرې بیان شوی چې ترڅو پورې مجرد کسان دنکاح وسه او توان پیداکوي باید له حیا اوعفت څخه کار واخلي په بد کاري سره د خپل نفس خواهش باید پوره نکړي.که چیرې پدې ایت شریف کې دنکاح نکولو خبره په زور داخله شي نو بیاهم دهغې مطلب فرد دی نه قوم او ټول امت ,دا خبره قرآن کریم فرد ته پریښې چې څه وخت هغه ځان د نکاح کولو جوگه بولي او څه وخت یې نه .
که رښتیا هم هغه ته د نکاح نه کولو امر شوی وي نوبیاهم پدې کې د حکومت او ټولنې یادونه په کوم ځای کې شوي ده؟
دا حق حکومت یاملت ته دا حق کله ورکړل شوی چې ترڅو یو څوك ځان په قضا او عدالت کې د نکاح کولو او هم د څو ماشومانو د پالنې - چې هغه به هم د دې خلکو لخوا ورته ټاکل کیږي - مستحق او حق دار ثابت نکړي تر هغې پورې د نکاح کولو حق چاته نشي ورکولی ؟ د ایت شریف د کومې کلمې یا لفظ څخه دوی دا ثابتوي چې پدې هکله د قانون جوړول د حکومت یا ملت حق دی؟
که د دې ایت شریف څخه دا خبره نه ثابتیږي نو بیا د دې خبره کوي چې د زیاتو ښځو د نه کولو قانون جوړول دحکومت یا ملت کاردی.

**پنځم تاویل:** دا خلك د دي څخه نور هم خندونكي دليل راوړي چي هغه دسورت النساء د29 ايت څخه كوي دكوم چي الفاظ اوكلمات دادي:

ژباړه: او تاسي هيڅكله هم دا توان نلرئ چې د ښځو په منځ كې عدل او انصاف وكړئ سره لدې چې تاسې د دې ډير خواهش لرونكي وئ، نوبيا د يوې ميرمنې خواته پوره مه كږيږئ چې بله هسې ځوړنده پريږدئ ، كه تاسې خپل عمل اصلاح كړئ او د الله (ج) نه وډارشئ نو يقناً الله (ج) عفوه كوونكى اورحيم ذات دى.

د همدې كلماتو او الفاظو په بنسټ هغوى خپل تاويل دا رنگه وړاندې كوي: الله (ج) دسورت النساء په 3 ايت كې د څو ښځو په نكاح كول د عدل او انصاف پورې تړلې او هغه يې شرط گرځولى دى اوپه 129 ايت كې يې دا فرمايلي چې د ښځو تر منځ عدل او انصاف كول د انسانانو په وس اوتوان پوره ندي، اوس د حكومت او ملت وظيفه ده چې ددې دوه آياتونه دتطبيق كولو لپاره قانون جوړكړي او د يوې څخه په زياتو نكاح كولو پابندي ولگوي، څرنگه چې دكلونو كلونو تجربو ثابته كړيده او قرآنكريم د دې خبرې څرگندونه كړې چې د دوه ښځو سره انصاف اوعدل نشي-كيداى نو بايد دا طريقه دتل لپاره ختمه او له منځه ولاړه شي

مونږ پدې خبره ډير تعجب كوو چې ددې ايت شريف څخه يې دومره لوى مضمون راويستلى دى .

دا سمه ده چې الله (ج) فرمايلي چې د دوه ښځو تر منځ كه انسان غواړي عدل وكړي دهغه په وسه او توان كې نده خو ايا ددې دنه پوره كيدو په صورت كې يې د څو ښځو سره دنكاح كولو قانون بيرته منسوخ كړي كوم چې دسورت النساء په دوهم ايت كې يې فرمايلي وو.

ددې ايت شريف څخه داڅرگنديږي چې الله (ج) دفطري او طبيعي حقيقت په بيانولو سره دخاوند څخه غواړي چې ددې سره سره بايد تاسې دنورو ښځو سره

داسې رویه ونکړئ چې یوې ته کوږوالی وي اونورې هسې ځوړندې اوبې برخې پاتې شي.
ددې ایت شریف څخه دانه څرگندیږي چې دپوره عـدل اوانصـاف دنـه مراعـاتولو پـه صـورت کـې بایـد داقـانون بالکـل خـتم اولـه منځـه ولاړشي، بلکـې ددې څخـه دا څرگندیږي چې خاوند باید د یوې ښځې دغوره کولو څخه پرهیز وکړي اوټولو ته یوه اندازه توجه وکړي سره ددې چې د زړه کوږوالی یې یوه لوري ته وي .
پدې ایت شریف کې حکومـت تـه دا اختیـار ورکـړل شـوی کـه یـو خاونـد یـوه یـا دوه ښځې ځوړندې پریږدي اویوې ته پوره میلان ولري .
پدې صورت کې به د عدالت اوانصاف څخه سرغړونه شوې وي کوم چـې دڅـو نکـاح گانو جوازورپورې تړل شوی .
ددې ایت شـریـف څخـه دا پـه هـیڅ صـورت نـه څرگنـدیږي چـې دنـه ځوړندیـدو پـه صورت کې دڅو ښځو سره نکاح کول جواز لري پـورتنی تاویـل خـو پـه هـیڅ صـورت ورڅخه نه جوړیږي چې حکومت دې د ټولو خلکو لپـاره دیـوې څخـه د زیـاتو ښـځو کول بالکل منع او بند کړي او د دې لپاره قانون جوړکړي .
دقرآن کریم څومره ایاتونه چـې څـوك غـواړي یوځـای دې کـړي او دهغـو تـلاوت دې وکړي خو قرآن مجید به دقرآن مجید دمفهـوم سره سـم لـولي نـه داچـې دبـل ځـای څخه مفهوم راواخلي او بیا یې په قرآن مجید پورې وتپـې او ووایـې چـې دا دقـرآن مجید مفهوم اومطلب دی ، دا ډول مطالعه غلطه ده اوپه هیڅ ډول هغـه اجتهـاد نـه منل کیږي.بلکې دا دتحریف یو ډول اوشکل دی چې دقرآن مجید ددښـمنانو لخـوا څخه دهغه کوښښ کیږي.

**شپږم تاویل:** هغوی دا تاویل هم کوي چې د سورت النسـاء د دریـم آیـت څخـه خـو دومـره څرگنـدیږي چـې د خلـورو نکـاح گـانو کـول مبـاح کـار دی نـه لازمـي او ضروري,که چیرې حکومت پوه شي چې عام خلك ددې جواز اومباح کار څخه غلطه

فايده پورته کوي نو که هغه منع کړي او بنديز پرې ولګوي نو پدې کې څه ګناه اوغلطي ده؟ ډير داسې مباح کارونه شته چې حکومت په هغې بنديز ولګوي خو تاسې هغه په دين کې مداخله نه بولۍ د مثال په توګه : په سړك ښي لوري اوچپ لوري ته تلل مباح دي، حکومت دابنديزلګوي چې تاسې به چپ لوري ته ځئ اوښي لوري ته به نه ځئ ايا دا په دين کې مداخله او لاس وهنه ده؟ غوښه هره ورځ او هر وخت مباح وي خو حکومت د مصلحت لپاره دوه يا درې ورځې د هغې څخه منع کوي. ايادا په دين کې مداخله ده؟ نو بيا چې دڅو ښځو سره نکاح يو مباح کاردی نو ولې تاسې په هغه کې مداخله په دين کې لاس وهنه بولئ؟ په څرګنده خو دا تاويل ډير معقول ښکاري خو په حقيقت کې تش يو جنجالي دليل دی.

يو ډول معاملات هغه دي چې شريعت په هغو کې بالکل چپ او ساکت پاتې شوی دی نه يې هغه منع کړې او نه يې د هغې اجازه ورکړې او نه يې حکم ورکړی .

پدې ډول معاملاتو کې حکومت پوره آزادي لري چې عمومي ګټې په نظر کې ونيسي۔ اودهغو دخونديساتلو لپاره چې څرنګه مناسب وي همغسې قانون جوړکړي.

دوهم ډول هغه معاملات دي چې په هغې کې قانون جوړول شريعت پخپل لاس کې نيولي او دهغې په اړه بنديز لګول ، اجازه ورکول او حکم کول يې ديو اصل تابع ګرځولي دي، پداسې معاملاتو کې که چا دشريعت په حکم کې بدلون اوترميم راوست چې منع شوی شی يې روا وګرځولو او يا يې روا کار منع کړ هغه دالله (ج) په قانون او شريعت کې دتحريف او ترميم جرم سرته رسوونکی دی.

ځکه چې يو څرګند حکم يو شی منع کړی او يا يې مباح ګرځولی دی پداسې معاملاتو کې منع رواګڼل ، روا بندول او يا مباح ګرځول په دين کې مداخله او لاس وهنه ده ، که دا تحريف نه وي نو بيا څه دی؟ قرآن مجيد په څرګند ډول فرمايي چې فلانی کار روا اوجايز دی ، تاسې دهغه په مقابل کې وايئ چې ناروا او ناجايز دی ايا دا د قرآن مجيد څرګند مخالفت ندی؟

دا اصولي او قانوني صورت د څو ښځو سره د نکاح په برخه کې هم دی کوم چې د منع کولو پر ځای په هغه بندیز ولګوي اوهغه بندیز د قرآن مجید د لګولي بندیز سره تـوپیر ولـري ، قـرآن مجید ددې کـار دمباح کولـو څخـه وروسـته پـه هغـې دوه بندیزونه ولګول یو دا چې یو نارینه په یو وخت کې د څلورو څخه زیاتې ښځې پـه نکاح کې نشي ساتلی .

دوهم بندیز داچې کله یو نارینه د یوې څخه زیاتې میرمنې ولـري د هغـوی پـه منځ کې به د نفقې اوکورني ژوند په برخه کې برابری اومساوات کوي.

که دا دوه بندیزونه حکومت په زور اوځواك سره عملي کړي نو په هغې هیڅ اعتراض نشته ، څوك چې د څلورو څخه زیاتې ښځې کوي هغه ته سخته سـزا ورکـولی شي، څوك چې دمیرمنو په منځ کـې عـدالت او انصـاف نکـوي هغـه مجبـورولی شي چـې عدل او انصاف وکړي، حکومت حق لـري چـې څـوك عـدل اوانصـاف نکـوي هغـه تـه سخته سزا ورکړي .

خو دا حق نلري چې په کـوم شي قـرآن مجیـد بنـدیز نـه وي لګـولی پـه هغـه بنـدیز ولګوي ، د مثال په ډول : قرآن مجید دیوې څخه دزیاتو ښځو سره نکـاح کـول دفـرد په تمیز اوعقل پورې تړلې.

که حکومت دا اختیار دفرد څخه واخلي اوهغه قومي یا بلې کـومې ادارې تـه ورکـړي دا په قرآن مجید کې څرګند تحریف اوترمیم دی.

قرآن مجید فرد ددې خبرې ذمه وار ګرځولی چې ایا هغـه عـدل قـائمولی شي اوکـه نه؟ که چیرې حکومت دا اختیار بل سړي یا بلې ادارې ته ورکړي تر څو هغوی د بلې نکاح څخه مخکې دهغه انسان عدل او انصاف معلوم کړي دا کار له یو لوري په قرآن مجید کې تحریف اوترمیم دی له بل لوري عدل اوانصاف معلومول هغه وخت کیـږي چې کله عمل صورت ونیسي، ترڅو چې نکاح نه وي شوې د هغې په هکله بـه عـدل او انصاف څه معلوم شي قرآن مجید یو بالغ مسلمان فرد ته د خپلې نکـاح کولـو پـه هکله که هغه لومړنۍ وي که دوهمه که څلورمه د هیچا څخه اجازه اخسـتل ضروري

ندي گرځولي، كه حكومت فرد ددې پابند بولي نو داهم په قرآن مجيد كې ترميم دى .

قرآن مجيد د څو نكاح گانو مباح والى په ضرورت پورې نه مشروطوي اماحكومت يې ترخاصو ضرورتونو پورې مشروط گرځوي او فرد دې ته اړ كوي چې له نكاح څخه مخكې بل كس يا اداره پدې ډاډه كړي چې هغه رښتينى ضرورت لري، دا كار هم په قرآن مجيد كې ترميم حسابيږي.

**دغلطو تاويلونو اصلى لامل :** پخوا لدې چې وړاندې ولاړشو ددې تاويل كوونكو ښاغليو څخه يوه پوښتنه كوو هغه داچې : تاسو چې دكومو اياتونو په هكله تاويلات كوئ هغه خو څو سوه كاله وړاندې نازل شوي دي ، پدې سوونو كلونو كې خو اسلامي ټولنه دنړۍ په زياته برخه كې موجوده وه ، اوسني اقتصادي ، تمدني اوسياسي حالات چې تاسو يې يادونه كوئ د تاريخ په اوږدو كې څو څو ځلې په اسلامي امت باندې راغلي خوددې څخه مخكې هيڅوا هم ددې اړتيا اوضرورت محسوس نكړ چې دڅوښځوپه نكاح كولو باندې بنديزونه ولگوي يا دا چې بالكل يې ختم كړي.

ايا د دې بل څه دليل كيداى شي چې دا فكر اوخيال د لويديځو قوتونو دبرلاسي اوغلبې په اساس په دې خلكو كې پيدا شوى كوم چې ديوې څخه زياتې نكاح گانې بدې گڼي خو نورې ناروا اړيكې ښې او روا بولي اوهغو ته قانوني جواز برابروي .

هغوى داسې خلك دي چې دخپلې ښځې سره بله ملگرې ساتل ورته ښه ښكاري اوښه يې گڼي خو دهغې له ملگرې سره ورته نكاح كول جرم اوگناه بريښي .

كه رښتيا هم ددې بنديزونو د لگولو فكر همدغه وي نو بيا مونږ ددې خبرې پوښتنه كوو چې ايا دخارجي اوبهرنيو اثراتو څخه متاثر كيدل اوپه قرآن مجيد كې د لويديځوالو په خوښه تاويلات كول سم اوصحيح اجتهاد دى او كه تحريف اوترميم؟ ايا پدې غلط اجتهاد سره دعامو مسلمانانو زړه اوفكر ډاډه كيداى شي؟

**نوي نوي شرطونه:** ځینې ښاغلي دخارجي اوبهرنیو اثراتو څخه اغیزمن شوي او د څو ښځو سره نکاح یې په ځینو خاصو حالاتو اوشرایطو پورې تړلې چګې دهغه میرمن شنډه وي یا دومره ناروغه وي چې دنکاح اصلي مقصد نشي پوره کولی یا بله مجبوري ولري.

په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل پدې پورتنیو خیالاتو اونظریاتو د رد کرښه راکاږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دیوې څخه زیاتې نکاح ګانې کړې دهغې داسې دلایل نه وو چې دوی یې یادونه کړې ده حال داچې نبي علیه السلام دتبلیغي مقصد , د اصلاح اوتېولنیزو اړیکو اویا دتعلیم دخپراوي لپاره زیاتې نکاح ګانې کړې دي .

اوس دا پوښتنه پیدا کیږي چې کله الله(ج) دڅو ښځو سره نکاح پدې حالاتو اوشرایطو پورې نده تړلې چې دوی یې یادونه کوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دنورو مقصدونو لپاره زیاتې ښځې په نکاح کړې نو بیا بل څوك څه حق لري چې له خپل لوري پرې بندیزونه اوشرطونه ولګوي اوبیا دادعوه هم وکړي چې دا بندیزونه د شریعت لخوا څخه لګول شوي اوتاسې د هغو څخه تراوسه پورې ناخبره یاست.

په حقیقت کې دابندیزونه دهماغه غرب اولویدیځ اغیز دی چې پخپل ذات کې د بدیومرکز دی ، هغوی دا کار حرام بولي اوکه حلال هم وي نو د ډیرو سختو اړتیاوو په حالت کې , حال داچې دوی خپله ترستوني پورې په بد اخلاقیو او نارواوکې ډوب دي .

که دوی پدې کوښښ کې وي چې ګوندې پدې به د شریعت جعلي ټاپه ولګوي اوبیا به مسلمانان پرې قانع کړي دا هسې خیال او خوب دیچې کله هم رښتیا کیدای نشي.

داخلك دسخت ضرورت پـه خـواكې دوه نورشرطونـه هـم لگـوي لـومړی داچـې هغـه سړی به يوه محكمه يـا اداره پـدې قـانع كـوي چـې د ده اړتيـا اوضرورت رښـتينی او واقعی دی، دوهم داچې هغـه خپلـه پخـوانۍ ښـځه پـدې قـانع اوراضي كـړي چـې د دوهمې نكاح اجازه وركړي . دا دواړه نا آشنا او بهرني نظريات او خيالات دي چې پـه زور سره په اسلامي قانون كې د هغې د داخلولو كوښښ او هلې ځلې كيږي .
د څو ښځو د نكاح كولو اسلامي قانون د ناچاره ضرورت او اړتيا سره نا آشنا دی څـه لا دا چې په هغې دا دوه شرطونه نور هم وراضافه شي .
پوښتنه دا ده چې دا دوه شرطونه له كوم ماخذ څخه اخستل شوي او له كوم ځـای څخه راوړل شويدي؟ آيا د قرآن مجيد په كوم ځای كې د هغو يادونـه شـوې ده ؟ آيـا په كوم نبوي حديث كې د هغو په هكلـه څـه اشـاره شـوې ده؟ آيـا د اسـلام پـه ټـول تاريخ كې د څو ښځو په نكاح كولو باندې كله هم په كوم ځای كې داشرطونه لگـول شوي دي؟ آيا ددې خبرې ثبوت اودليل چيرې شته چې رسول الله صلی اللـه عليـه وسلم چې د يوې بي بي دنكاح څخه وروسته اصحاب كرام راغوندكړي وي او بيا يې هغوی ډاډه كړي وي چې زه بلې نكاح اوبلې ښځې ته بالكل اړتيا لرم ؟ آيا په صحابه كرامو كې كله داسې شوي دي چې د دوهمې يا دريمې نكاح لپاره يې خپل ضرورت اواړتيا درسول الله صلی الله عليه وسلم په دربار كې يا دصحابه كرامو دكومې ادارې په وړاندې خپل دلايل اوثبوت وړاندې كړی وي؟
پاتې شوه دخپلې مخكينۍ ښځې څخه د اجازې اخيستلو خبره نوكلـه چـې پـه يـو آزاد او بالغ مسلمان نارينه د خپلې نكاح په برخه كې د مـور او پـلار اجـازه اخيسـتل لازم شوي ندي نو د خپلې ښځې اجازې ته به څرنگه مجبور وگرځول شي ! كيـدای شي دا نظر اوخيال د داسې چا لخوا وړاندې شوی وي چې هغـه دښـځې مريـد وي اودهغه ذهن داوي چې كله نارينه نكاح وكړي نو بيا دهغـه اړيكـې دمـور اوپـلار سره شليږي اويوازينی سر پرست يې ميرمن وي نو بيا خو ورڅخه اجازه غوښتل دداسې نارينه لپاره پكار ده .

او که دا خبره وي چې دبلې ښځې په راتللو سره په کور کې مشکلات ، ستونزې او مسایل پیدا کیږي نو دخپل زوی لپاره انګور راوستل هم همداسې ستونزې او مسایل منځ ته راوړي نو بیا به موراوپلار څه کوي؟ آیا هغوی پدې هکله باید له پامه وغورځول شي؟

**دپناه وروستی ځای** : له ځان نه جوړشویو اوغلطوتاویلاتو دوړاندې کولو څخه وروسته هغوی دپناه آخرنی ځای دا راپیداکړ چې دحضرت فاطمه الزهرا رضی الله عنها په ژوندانه کې حضرت علىرضـګي الله عنه غوښتل بل واده وکړي خو رسول الله صلى الله علیه وسلم هغه لدې کار څخه منع کړ.

دا خبره ددې دلیل دی چې بل واده کول په خپل ذات کې غلط کاردی ځکه نو رسول الله صلى الله علیه وسلم هغه لدې بد کار څخه منع کړ، بل داچې دوهمه نکاح د مخکینۍ ښځې اوخسرګنۍ لپاره تکلیف ورکوونکې ده په همدې خاطر رسول الله صلى الله علیه وسلم په خپلې لور باندې دبنې (بلې ښځې ) راوستل بد وګڼل .

که رسول الله صلى الله علیه وسلم د تقلید او پیروي په خاطر ټول مسلمانان ددې کار څخه منع کړای شي نو څه زیان اوتاوان به ولري دا خو عیناً د رسول الله صلى الله علیه وسلم پیروي ، اطاعت او متابعت دی.

څرنګه چې دا تاریخي پیښه هغوی د اسلام په قانون کې د بدلون او تغییر لپاره استعمالوي نو پکار ده چې اصلي پیښه او واقعه په روښانه توګه لوستونکو ته وړاندې شي ترڅو هغوی دمسئلې په حقیقت ښه پوه شي.

اصلي پیښه دا ډول ده : دمکې مکرمې د فتحې څخه وروسته چې کله د ابوجهل کورنۍ ایمان راوړ نو حضرت على رضي الله عنه د ابوجهل د لور چې په کتابونو کې یې نوم ( جویریه ، عوراء ، او جمیله ) یاد شوی نکاح کول غوښتل ، هغوخلکو چې

وویل چې مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم په لور باندې خپله لور نه ورکوو ترڅو چې دهغه څخه پوښتنه ونکړو!

نو هغوی درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ددې خبرې پوښتنه وکړه ، یو روایت داسې راځي چې خپله حضرت علی رضي الله عنه په اشارې سره دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یاده کړه او بل روایت داهم دی چې حضرت فاطمه رضی الله عنها د دې اوازې څخه خبره شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې شکایت وکړ هغه په ځواب کې وفرمایل: بنی هاشم بن مغیره له ما څخه اجازه وغوښتله چې خپله لور علی بن ابی طالب ته په نکاح ورکړې ، زه ددې خبرې اجازه نه ورکوم ، نه ورکوم ، نه ورکوم خوپدې شرط چې دابی طالب زوی زما لور طلاقه کړي او بیا هغه په نکاح کړي .

زما لور زما ټوټه ده ، هغه چې په څه خفه کیږي زه په هغه خفه کیږم، کوم شی چې هغې ته تکلیف رسوي هغه ماته هم تکلیف رسوي ، زه حلال نه حراموم اونه حرام حلالوم ، خو په الله (ج) قسم چې دالله (ج) درسول لور او دالله (ج) ددښمن لور به سره یوځای نشي، په روایت کې دا دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فاطمه زما څخه ده او زه ویریږم چې ددین په معامله کې په فتنه کې پرې نوزي.

د پیښې څخه سړي ته شك پیدا کیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله څو نکاح ګانې کړې دي او نورو مسلمانانو ته یې هم د څلورو ښځو سره د نکاح کولو اجازه ورکړې ده خو پر خپلې لور یې د بنې او بلې ښځې راوستل بد ګڼلي کوم تکلیف چې د بلې ښځې د نکاح څخه حضرت فاطمې ته پیدا کیده او هم د هغې په خفګان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسیده دا خو هرې ښځې او هر خسر ته رسیږي نو بیا څه دلیل او سبب دی چې دخپل ځان لپاره یې دا خوښه نه کړه او د نورو لپاره یې اجازه ورکړه په ښکاره خو دا سخت اعتراض دی او واقعې ته په

ساده توګه کتل سړی په شك او تردید کې اچوي خو که لږ شانته غور پرې وشي نو حقیقت څرګندیږي .

دا خبره بالکل طبیعي او فطري ده چې یوه ښځه باندې د بلې ښځې راتلل لومړی ته تکلیف رسوي او ان پلار، مور، ورور اونور خپلوان یې هم پرې خفه کیږي . شریعت دغه اجازه د دې لپاره نده ورکړې چې ګوندې دښځې خپلوان به پرې نه خفه کیږي بلکې اسلام اصلي واقعې ته نظر اچولی او اجازه یې ورکړې ده ځکه چې نور ټولنیز او اجتماعي مصلحتونه یې غوښتونکي دي.

شریعت پدې پوهیږي چې بنې او د یوه خاوند ښځې خوږې خویندې نشي کیدای ، د هغوی ترمنځ به ستونزې او خفګانونه وي او کورنی چاپیریال به تریخ وي خودا شخصي، او انفرادي زیانونه د هغه اجتماعي او ټولنیز زیان څخه ډیر کم دي کوم چې یو نارینه ته یوازې د یوې ښځې په لازمي کولو کې منځ ته راځي اوټولنه د خرابیو سره مخ کوي په همدې خاطر شریعت د څو ښځو سره د نکاح کولو اجازه ورکړې ده.

اوس تاسې وګورئ چې درسول الله صلی الله علیه وسلم پدې مسئله کې کوم مشکلات پیداکیدل .

په شرعي لحاظ سره درسول الله صلی الله علیه وسلم په لور باندې دبنې او بلې ښځې راتلل دهغه دزوم لپاره حلال وه په همدې خاطر هغه غوښتل دا کاروکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دا خبره کړې وه چې دا کار کول حرام ندي بلکې خپله یې وفرمایل چې زه حلال نه حراموم .

خو دې ته باید توجه اوپام وشي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه مختلف حیثیتونه دلته سره جمع شوي وو یوبشري اوانساني حیثیت چې دهغه په لور باندې کوم تکلیف راتللو په فطري اوبشري لحاظ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې هم دهغه لږ څه اغیز غورځید بل دهغه رسالت اوپیغمبري حیثیت وو چې کله په څه خبره یا کومه مسئله دچا اړیکې درسول الله صلی الله علیه وسلم سره

خرابيدلې او درسول الله صلى الله عليه وسلم دتکليف سبب گرځيده نو دهغه ايمان او دين ته خطر متوجه کيده نو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم دواړه لوري هم حضرت علي رضى الله عنه اوهم هشام بن مغيره لدې څخه منع کړل.
ځکه په شرعي لحاظ دا کار حلال وو خو پدې کې درسول الله صلى الله عليه وسلم دخفگان او تکليف رسيدو خطر موجود وو چې په نتيجه کې حضرت علي رضى الله عنه ، هغه بلې ښځې او د هغې کورنۍ ته دايمان او دين زيان رسيده.
بله خبره چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله خطبه کې هغې ته اشاره کړې هغه داچې د هشام کورنۍ داسلام سره سخته دښمني لرله اود مکې ترفتحې پورې يې ان تردې چې د فتحې په ورځ هم يواځې همدوى مقابله وکړه اوددې انجلۍ پلار ابوجهل خو ټول امت ته څرگند وو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې څومره ضد ,کينه او دښمني وه، دې کورنۍ نوى نوى اسلام راوړى وو. ابوجهل د بدر په جگړه کې د مسلمانانو لخوا وژل شوى وو او داکورنۍ د غچ او انتقام په اورکې لولپه وه ، څرنگه چې هغوى نوى اسلام راوړى وو دا هم څرگنده نه وه چې هغوى اسلام دزړه په اخلاص قبول کړى وو اوکه هسي حالاتو اړويستي وو.
نو د داسې کورنۍ لور بيا په ځانگړې توگه دالله (ج) اودرسول الله صلى الله عليه وسلم دلوى دښمن لور داسې کورته راننوتل په کوم کې چې درسول الله صلى الله عليه وسلم لور موجوده وي د زياتو فتنو سبب کيداى شواى.
دهغوى زړه خوشحالول خو ښه وه او دا کار خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم هم وکړ خو تر څو چې پوره باور او اعتماد تر منځ نه وي پيدا شوى د داسې کورنۍ لور د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لور په مقابل کې ودرول د خطر او فتنې څخه خالي نه وو .
په همدې خاطر رسول الله صلى الله عليه وسلم دا کار بد وگاڼه اوپه څرگنده يې وفرمايل چې درسول الله صلى الله عليه وسلم لور او دهغه ددښمن لور هيڅکله هم په يوه کورکې نشي سره يوځاى کيداى , او دا خبره يې هم په ډاگه کړه چې پدې به

حضرت فاطمۍ الزهرا رضی الله عنها په فتنه كې پريوزي , ښكاره خبره ده چې ديو سړي دنكاح په سبب چې هغه حلاله هم وي ټول امت ته دفتنې او شر خطر پيدا شي.

دلته يوه پوښتنه پيداكيږي هغه دا چې ابوسفيان هم دابوجهل څخه په اسلام دښمنۍ كې څه كم نه وو نو چې د ابوجهل لور كوم خطر پيدا كولی شو دابوسفيان له لور حضرت ام حبيبه رضی الله عنها څخه هم دغه خطرشونی وو پداسې حال كې چې هغه خپله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارك حرم كې داخله وه، نو بيا ولې هلته ددې خبرې او خطر پيداكيدو په هكله څه ونه ويل شول؟

په ښكاره خو دواړه معاملې يو راز ښكاري خو د ابوجهل د لور مسئله د ابوسفيان دلور له مسئلې سره ډير توپير لري او په هيڅ توګه سره مقايسه او پرتله كيداى نشي ، ځكه د ابوجهل لور او نورې كورنۍ دمكې د فتحې څخه وروسته ايمان راوړی وو او تر اوسه پورې دهغوی ايمان امتحان شوی هم نه وو چې آيا هغه په اخلاص بنا دی اوكه د ماتې اوحالاتو زيږنده ده.

حال داچې حضرت ام حبيبه رضی الله عنها له لومړنيو مومنانو څخه وه اوپه هغې د نورو صحابه كرامو څخه زيات امتحانونه او ازميښتونه راغلي وو اوتر ټولو بريالۍ اوكاميابه راوتلې وه ، هغې ددين په خاطر دومره سرښندنې او قربانۍ وركړې وې چې مثال يي ډير كم پيدا كيږي .

تاسې لږ توجه اوپام وكړئ د ابوسفيان لور ، د هند لور هغه چې د ځګرخورې نوم يې ګټلی وو، اوترور يې هغه مشهوره ښځه وه چې په قرآن مجيد كې ورته د(حمالۍ الحطب) خطاب شوی اودهغه چا لمسۍ چې داسلام په دښمني كې يې نوم ګټلی وو يعنې عتبه بن ربيعه ، خو همدغې نامتو ښځې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه اوحضرت حمزه رضی الله عنه څخه مخكې د امتحانونو او ازميښتونو سخت ډګر ته وردانګلي او اسلام يې منلی وو او خپل خاوند يې هم له ځان سره مسلمان كړی وو ،كله چې د خپلې كورنۍ د ظلم تيرې او بربريت څخه په تنګه شوه د نورو

مسلمانانو سره يې يوځاى حبشې ته هجرت وکړ، په حبشه کې يې خاوند اسلام پريښود او عيسويت يې ومانه خو دا باهمته ښځه په بې وطنۍ اوبيوزلۍ کې د دين او اسلام په خاطر خپل خاوند له ځان څخه جلا کوي او د يوې کوچنۍ لور سره يې يوازې او تنها ژوندغوره کړ، سره د دې ټولو مشکلاتو ، کړاونو کې د هغې په ايمان اودين کې کوم بدلون اوکمزوري رانغله بلکې په پردي وطن ،غريبۍ او کړاونو کې هم هغې ثابته کړه چې اسلام ته د کوم اخلاص ، اخلاقو، سيرت اوقربانۍ اړتيا ده هغو ټولوته چمتو او تياره ده او دغه هر څه پکې موجود دي .

ددې ټولو امتحانونو تر تيرولو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه د خپل ځان لپاره غوره کړه اوپه حبشه کې يې هغې ته د نکاح پيغام واستاوه چې د خيبر د غزوې څخه وروسته مدينې منورې ته تشريف راوړي اوپه نبوي مبارك حرم كي داخله شي .

لږوخت وروسته د مکې قريش د حديبې د سولې د تړون څخه سرغړونه کوي خو وروسته متوجه کيږي چې اوس نورسول الله صلى الله عليه وسلم حتماً په مکه باندې بريد اوحمله کوي ، د همدې خطر د لرې کولو لپاره د مکې د مشرکانو سردار ابوسفيان مدينې منورې ته دسولې دتړون د بيا تازه کولو لپاره راځي اوپه دې طمع او اميد چې دسولې تړون به بيا تازه شي دخپل لور کورته به ځان راورسوي .

د کلونو کلونو جدا والي او لرې والي څخه وروسته لور ته د خپل پلار ليدل په نصيب کيږي خو کله چې پلار يې غواړي درسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارك فرش باندې کښيني لور يې سمدستي هغه فرش ټولوي او ورته وايي چې درسول الله صلى الله عليه وسلم کې يې هماغسې دښمني اوکينه لري او وخت ته په انتظار کې دي .

داوه هغه پيښه او واقعه دکومې په هکله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د نه کولو په هکله خطبه فرمايلې وه، داسې پيښه او واقعه څرنګه ديو داسې اسلامي

قانون د ختمولو او لرې کولو لپاره کارول کیږي کوو چې درسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت څخه تر نن ورځې پورې په ټول امت کې منل شوی دی.

**څرګنده اوغوڅه خبره:** د دې بحث دختمولو څخه مخکې مونږ د دې نوې زمانې شلخیو مجتهدینو ته څو غوڅې خبرې وړاندې کوو.

لومړی داچې دنړۍ په کوم ګوټ کې چې د یوې ښځې کولو قانون نافذ شوی هلته د څو ښځو ساتلو غیر قانوني لارې چارې رواج او خپراوی پیداکړی ، تاسې د نړۍ په تاریخ کې په عملي توګه دانشئ ثابتولی چې په عملي توګه چا د یوې ښځې په نکاح کولو بسنه کړې وي، دیوې ښځې کولو قانون او بندیز دا نتیجه ورکړې چې د نارینه یوه قانوني ښځه وي خو په غیرقانوني توګه هغه د بې شمیره ښځو سره غیر اخلاقي اړیکې ساتلای شي او د هغوی څخه غیر قانوني ګټه پورته کوي د هغوی په هکله هیڅ مسوولیت نه احساسوي اونه د هغوېمسئولیت په غاړه اخلي پداسې حال کې چې د هغوی څخه دناجایز اولاد مسئولیت ته هم غاړه نه ږدي بلکې ټول بشري حقونه له پښولاندې کوي.

ستاسې په وړاندې دا خبره مهمه او مطرح نده چې یوه ښځه غوره کړئ اوکه څو ! بلکې اصلي مسئله داده چې آیا تاسې په قانوني توګه تعدد ازواج یا څوښځې په نکاح کول قبلوئ او که غیر قانوني ؟ که قانوني ګڼ ودونه نه قبلوئ نو لازمي خبره ده چې غیر قانوني به قبلوئ! دغه راز تاسې باید د بې واده شویو مینډو او نا مشروع (حرامیانو) بچیانو قبلولو او سمبالوته هم هرکلی ووائیي چې د یوې ښځې د قانون په نافذوونکو هیوادونو کې یې یوه ستره ستونزه او مسئله پیدا کړې ده.

که تاسې پدې خام خیال کې اخته یاست چې کومو هیوادونوکې دا تجربه شوي او غلط نتایج یې راوتلي خو تاسې به ورڅخه بچ پاتې شئ نه, هیڅکله نه! تاسې ته به دا تجربه ثابته کړي چې تاسې د احمقانو په جنت کې شپې او ورځې تیروئ.

كله چې ستاسې سترگې خلاصې شي بيا بـه لاسـونه مبنـې خـو څـه گټـه بـه نلـري ځكه د كوم فساد دروازه چـې تاسـې خلاصـه كـړې وي د هغـې دبنـدولو وس بـه بيـا تاسې نه لرئ.

يو لورې ته تاسـې د غـربي او لويـديځ تمـدن د تقليـد پـه خـاطر خپلـو هيوادونـو او وطنونوته لوڅ اوبربنډ فلمونه ،لوڅ او لغړ تصويرونه، بد اخلاقه او شهواني موسـيقي او احساساتي نشريات راوړئ كوم چې هروخت د خلكو جنسي احساسات راپاروي ، د بل لوري تاسي مخلوط اوگډ تعلـيم او زدكـړه رواجـوئ ، هـره ورځ زيـات نـه زيـاتي ښځي په دولتي ادارو او دفترونو كي په كار گمارئ چـي پـدي سره دځـان جوړونكـو اوميك اپ كوونكو ښځو او نارينوو يو ځاي كيدل او مخلوط كيدل زياتيږي .

ددي څخــه وروســته اوس تــاسي غــواړئ پــه تعــدد ازواج بانــدي داسي شرطونــه اوبنديزونه ولگوي چي هغه عملاً ممكن نه وي ، بله داچي دشپاړس كلنـې انجلـې ، اواتلــس كلــن هلــك د عمــر څخــه مخــكي نكــاح نشيـ كــولاځ اويــا ددي څخــه داڅرگنديږي چي تاسي غواړې داهيوادونه اوخلك د زنـا پـه طوفـان كي ډوب اولاهـو كړي اوتاسي د همدي لپاره كار كوئ.